
# زمری پاچا


یو وخت د افریقی په زواني کې یو ډېر ښکلی سهار وو. کله چې لمر ختلو او ورځ مخ په تود ېدو تله، په زررونو ژوي (حیوانات) سره راټول شوي وو. بل اخره ټول په یوې خوا په خوځېدو شول.



پیلان، غرڅني، اوښ پړانګ (زرافه)، ګوړاخر (ګوره خر) او همداسې نور ټولو ژوو (حیواناتو) څومره چې کېدی شو، بیړه کوله چې ځانونه هغه لویې ډبرې ته ورسوي، چېرته چې د زمري پاچا د استوګنې ځای دی. ځکه چې نن د زواني د ژوو (حیواناتو) د پاره یوه خاصه ورځ وه.


کله چې دا ژوي (حیوانات) خپل هدف ته ورسېدل، نو بیا د خپل پاچا موفازا او د هغې د ښځې ملکه سرابي ته په تمه وو.

په دغه وخت کې زړه بیزو چې رافیکي نومېږي، راڅرګنده شوه. دې بیزو ته ټولو ژوو (حیواناتو) ډېر احترام لرلو، ځکه چې دا ډېره پوهه او هوښیاره وه. کله چې به خاص دود یا مراسم وو، نو دې ته به یې د مشرولي د پاره بلنه ورکړه.



رافيکي د غلي توب يا ارامتيا غوښتنه وکړه. بيا يې يو وړوکۍ د زمري بچی پورته کړ. ددې د پاره چې ټول يې وليدلی شي. دې په مراسمو سره نارې کړې:


«زمونږ د ښه پاچا موفازا لومړني ځوی ته ښه راغلاست ووايې ! د دغه کوچني نوم به زيمبا وي او دا به ستاسو شهزاده وي !»




ټولو د دغه نوي ماشوم د ځېږېدو په ویاړ د خوښۍ او خوشحالۍ نارې وهلې. خو یوازې یو ځوک دې مراسم ته نه وو راغلې، چې هغه د موفازا ورور سکار وو. سکار د خپل ورور سره رخه (حسد ) کاوه، ځکه چې سکار خپله غوښتل چې پاچا شي. د پاچا موفازا سلاکار ځاځو (چې یو مرغه دی) د سکار سمسې ته والوت چې سکار په دغه کار سره ورټي. خو د سکار یوازېنې ځواب، په قهر سره غړمبېدل وو.




یو ناځاپه سکار واورېدل چې یو ځوک په قهر سره ددې نوم ته غږ کوي. دا ددې ورور زمری پاچا وو او ورته یې وویل: « ته ولې زما د ځوی د ځېږېدنې مبارکۍ ته رانغلې؟» سکار په قهر سره ځواب ورکړ: « که ته نه وای نو زه به په دغه لوی ملک کې پاچا وای !» او بیا روان شو.




د پاچا ځوی زیمباؤ پر ژر غټ شو. یوه ورځ پاچا خپل ځوی ته د خپلې پاچاهي ساحه په دغې لوی ملک کې ښودله: « مونږ په دغه خپلې پولې (سرحد ) تر منځ په امن یو ، خو پام کوه چې د دغه غونډۍ نه پورې غاړې ته هیڅکله ولاړ نه شي، هلته ډېر لوی خطر دی !»




په همدې وخت کې ځاځو د پاچا سلاکار راڅرګند شو او پاچا ته یې د کوړانو له خوانه د خطر خبر راوړ. موفازا له قهره وغړمبېده او خپل ځوی زیمبا ته یې وویل چې ته همدلته پاتې شه. بیا یې پر کوړانو یرغل وکړ او هغوی یې تېښتې ته مجبور کړل. زیمبا پر خپل پلار ډېر ویاړېده (افتخار کاوه).




سکار د ځان سره یو پلان جوړ کړ چې څنګه وکړی شي چې خپل ورور او د هغه ځوی له منځه یو سي، ترڅو خپله پاچا شي.



سکار خپل وراره زیمبا ته د یو ځای چې د پیلانو هدیره ده او د یوې غونډۍ شاته ده قصه کوله او ورته یې په دروغو وویل: «هلته یوازې زړوره زمریان تلی شي.» سکار پوهېده چې زیمبا د خپل پلار د اجازې څخه پرته دې خطرناکه ځای ته ځي، ددې د پاره چې دا وښايي چې دی یو زړور زمری دی.



د سکار پلان په کامیابېدو دی. زیمبا غوښتل چې حتماً دا ځای وګوري، نو ځکه د خپلې ملګرې نالا څخه هم غوښتنه وکړه چې ورسره ملتیا وکړي.




ځاځو د پاچا سلاکار نه پوهېده چې دا دواړه چېرته ځي. هغې غوښتل چې دا دواړه خپل نظر لاندې ونيسي. خو دې دواړو خپل ځانونه د ګوړا خرو په رمه کې پټ کړ او ځاځو ونه شو کړی چې نور دا دواړه وڅاري.






د پیلانو هډیره یوه ډېره ډارونکې سیمه وه. هرې خواته د مړو پیلانو هډوکې پرتې وې. یو ناڅاپه یو ډېر خراب او د مسخرو نه ډک د خندا غږ وشو او په همدې وخت کې د مړ پیل کوپړۍ نه دری مضره کوږان راووتل. یو کوږ غږ کړ: « وګورۍ چې څوک دلته راغلي !» بل کوږ خپلې شونډې وڅټلې او ویې ویل: « داسې ښکاري چې زمونږ ماښامې ډوډۍ ده !»



زیمبا په توتله غږ سره وویل: « زه ستاسو رزیلانو څخه هیڅ ویره نه لرم !» بیا په زړوری سره د نالا مخ ته ودرېد چې د دغه داړونکو حیواناتو څخه یې وژغوري.


کله چې دې درېواړو کوړانو غوښتل پر دي وړو بې وزله زمریانو باندې یرغل وکړي، په دغه وخت کې یوه اعظیمه څېره د قوي پنجو سره ددوی منځ ته ټوپ کړ او دا کوړان یې تېښتې ته مجبور کړل. دا د زیمبا پلار موفازا وو.

تسادفاً مفازا د دغه ځای په نږدیو کې وو، کله یې چې د ملنډو نه ډکه لوړه خندا د کوړانو واورېده، نو په بیړه یې پر کوړانو یرغل وکړ. کوړانو خپل ټپونه څټل او په تېښته شول. یو د دوی څخه وګرځېد او په خپه شوي غږ سره یې وویل: « معطل وکړه موفازا ! په نږدې وخت کې به مونږ ستا پاچاهي ونیسو !»



دا چې زیمبا د خپل پلار خبرې نه وو منلي، نو پلار یې په خپل زوی باندې په قهر شو. زوی یې ورته وویل: « خو ما غوښتل چې زه هم لکه ستا په شان زړور او غښتلی اوسم !» پلار یې په ځواب کې په خندا سره وویل: « ته باید د یو پاچا په حېث د زړوز تیا او غښتلي توب تر څنګ

هوښیاره هم اوسې. زویه، پورته ستورو ته وګوره! ټول هغه پخواني زمونږ نیکونه تا ته ګوري او تا داسې رهبري کوي لکه زه چې یم. ځکه چې کېدی شي یو وخت زه ستاسو سره نه اوسم او ته پاچا شي!»



په دې ترڅ کې منافق او د چل ول نه ډک سکار بیا د خپلو ملګرو کوړانو سره ولیدل. د پاچا کېدو د پاره دې بیا لکه د پخوا په شان بل پلان په نظر کې نیولی او خپلو ملګرو څخه یې غوښتنه وکړه چې بلې ورځې ته دې ځانونه تیار کړي. سکار وویل: « سبا زه پاچا کیږم، که چېرته تاسو ما سره مرسته وکړه، نو تاسې به ډېر ښه ډالۍ تر لاسه کړی!»




کله چې زیمبا سبا لږ وخت د پاره یوائې وو ، بېشرفه سکار راغی او زیمبا ته یې وویل: « ستا پلار ستا د پاره یوه ډالۍ لري، او هغه تا ته په تنګۍ کې پر لویې ډبرې انتظار کوي.»

زیمبا وپوښتل: « دا لویه ډالۍ ده؟» سکار په ځواب کې وویل: « هو ، دا ستا د ژوندانه لویه ترینه ډالۍ ده.»




سکار زیمبا د ځان سره تنګۍ ته ویوړ او ورته یې وویل چې دلته خپل پلار ته انتظار وکړه. بیا یې کوړانو ته په پټو سره خبر ورکړ. په دغه وخت کې د غویانو په شان افریقایې غرڅنو رمې د زیما په طرف له وېرې منډې کړې. دلته د زمري وړوکي بچي د ځان ژغرولو د پاره د یوې چپه شوي ونې یو خاښ ته ټوپ کړ.






د زمريانو پاچا موفازا د خپل ځوی نا امېده غږونه واورېدل او بيړه يې وکړه چې د خپل ځوی زيمبا سره مرسته وکړي. سکار دلته په يو پټ ځای کې ځان پټ کړی وو ، ترڅو خپل پلان عملي کړي.

زمري پاچا موفازاد دغه غرڅنو منځ ته ټوپ کړ او زيمبا يې يوې لويې ډبرې سر ته د مرګ څخه وژغوره. خو زمري پاچا خپل ځان د دغې ډبرې سره ټينګ نه کړی شو او نږدی وو چې ښکته ګزار شي. په دغه وخت کې يې په خپل ورور سکار نظر ولګېد او د مرستې غوښتنه يې وکړه. خو سکار ددې د پاره چې د خپل ورور سره مرسته وکړي او ځان ته يې راکاږي، ددې په ځای هغه يې پورې وهه او ښکته د غرڅنو د رمې په منځ کې ولويد او د پښو لاندې مړ شو.



کله چې د غرڅنو رمه تېره شوه، زيمبا خپل پلار ته منډې کړې، چېرته چې بې حرکته پر ځمکه پروت وو. هيڅا نور نه شو کولای چې د موفازا سره مرسته وکړي. دا لوی پاچا نور مړ شو. زيما ونه ليدل چې سکار خپل ورور موفازا څنګه پورې وهه. زيمبا د خپل پلار د مرګ په حق کې خپل ځان ملامت کړ. هغه ډېر خپه وو.



سکار په قهر سره زیمبا ته وویل: « هو ، تا خپل پلار ووژه. ځه زیمبا ! ځه ورک شه او بیا بېرته رانه شی !»



زیمبا په ګډوډ فکر سره منډې کړی. زیمبا ونه لیدل چې همدلته د سکار په امر کوږان هم پټ وو. سکار دې کوږانو ته امر وکړ چې د مړ پاچا زوی زیمبا هم مړ کړي. سمدلاسه کوږانو د زیمبا ښکارولو ته لاس په سر شول. خو په دغه ځای کې اغزي لرونکو بوټو زیمبا ته نجات وکړ. کوږانو ونه شو کړی چې په دغه اغزو لرونکو بوټو کې نور زیمبا ونیسي. نو ورته یې وویل: « که ته بېرته راغلې، نو مونږ به تا مړ کړو !»




اوس نو زیمبا په امن کې شو. خو هغه په یوې ناپېژندل شوي سیمه کې وو او نه پوهېده چې دلته په کوم ځای کې هغه اوبه او خوراک ته څه پېدا کړي. هو هیڅ کوم سیوری د دغه سور سوزونکي لمر څخه د نجات د پاره موجود نه وو. بل اخره دا بې وزلی د زمري بچی د ډېرې ستومانۍ نه پر ځمکه ولوېد.



ډېر ساعتونه وروسته کله چې زیمبا خپلې سترګې خلاصې کړې، فکر یې وکړ چې دا خوب ویني. دا د سوزونکي دښتې په ځای اوس د یوې ونې سیوري لاندې پروت دی. او هغه نور

یو ائځې نه وو. په دغه وخت کې اوږدې لکۍ لرونکي بیزو وویل: « ته مونږه دې ځنګله ته راوستې.» د دغې اوږدې لکۍ لرونکي بیزو نوم تیمون دی. تیمون او په خوله کې ښکر لرونکي خنځیر چې نوم یې پومبا دی، پر زیمبا یې زړه وسوځېد او دا یې خپل پاملرنې لاندې راوسته.

تیمون او پومبا زیمبا ته په ځنګله کې ژوند کول ورزده کړل. په نږدې ورځو کې دا درېواړه سره ښه ملګري شول.



وخت تېرېده او زیمبا لوئیده او دا یو ستر او شانداره زمری جوړ شو. کله چې یو ماښام دا درېواړه ملګري پراته وو او اسمان ته یې کتل، زیمبا ته د پلار خبرې بیا په یاد راغلې: «تېر ستر زمریان پورته نه تا ته ګوري او تل ستا سره دي چې تا ته لار ښودنه وکړي، همداسې لکه زه، کله چې یوه ورځ زه هم تا سو سره نه یم!»



زیمبا سوړ اسویلی وکړ. د هغې پلار او مور یاد ېدل. خو هغه هیڅ کله نه شو کولای چې بېرته خپلې سیمې ته ولاړ شي، ځکه هغه د خپل پلار په حق کې ځان ګناه کار ګاڼه.




په بله ورځ کله چې زيمبا د قدم (چکر) وهلو نه بېرته را ستنېده، هغې د خپلو ملګرو د مرستې غږ واورېد. پومبا د يوې چپه شوې ونې لاندې بند وو او تيمون کوښښ کولو چې خپل دوست د يو وږې زمرۍ څخه وژغوري.



سمدلاسه زيمبا ټوپ کړ او د زمرۍ سره په جګړې ته تيار شو. دلته زيمبا يو اشنا غږ يې په غوږو راغی، کله چې د زيمبا د وړوکتوب ملګرې زمرۍ (نالا) وويل: «زيمبا! دا ته يې؟ ته ژوندی يې؟» نالا هم لکه د زيمبا غوندې غټه او قوي شوې وه.





نالا د خپلې سيمې کيسې وکړې چې سکار اوس پاچا دی. ټولې ژوي (حيوانات) ددي او د کوږانو څخه په وېره کې دي. نالا وويل: « ته بايد خپلې سيمې ته راشې، ته زمونږ قانوني پاچا يې !» زيمبا وويل: « زه نه شم کولای، هيڅکله هم نه !»



دا چې زيمبا د خپل پلار د مرګ په حق کې خپل ځان ګناهکار ګڼه، نو نه شو يې کولای چې خپلې مور سترګو ته وګوري. يوه شپه رافيکي بيزو زيمبا ته راغله او زيمبا نه يې غوښتنه وکړه چې پورته اسمان کې ستورو ته وګوري. کله چې زيمبا پورته اسمان کې ستورو ته کتل، نو د

وربځو په منځ کې يې د خپل پلار موفازا مخ وليد چې خپل زوی زيمبا ته وايي: « زويه ته د خپل ولس قانوني پاچا يې، بېرته ولاړ شه خپل ولس ته او د هغو سره مرسته وکړه !»






د هغه وخت نه را په دې خوا ، سکار ټول زمریان ربړولي او د زیمبا مور هم تر خطر لاندې وه.




یو ناڅاپه سکار یو غړمبېدلی غږ واورید. کله یې چې مخ را وا ړولو ، نو سمدلاسه بې حرکته شو او په ټیکاو سره یې وویل: «موفازا ! نه دا امکان نه لري ! ته خو مړ شوی یې !»


خو د زیمبا مور ملکې زر ابي خپل زوی وپېژندلو او په خندا سره یې وویل: « زما زویه ! بلاخره ته بېرته راغلې، چې مونږه وژغورې !»




زیمبا په ډېر قهرېدلي غږ سره چیغې کړې: « ورکیږه سکار ! دا زما پاچایي ده !»




سکار په ځواب کې ورته وویل: «که ته پاچاهي دې بېرته غواړې، نو ته باید وجنګېږې !»



سکار خپلو ملګرو کوړانو ته امر وکړ چې پر زیمبا یرغل وکړي. کوړانو پر زیمبا یرغل وکړ او دا یې د لویې ډبرې کمر یا څنډې ته، کوم چې شاته هغه ډوغله یا کنده ده چې موفازا ولېږدلې وو او مړ شوی وو، په شا تګ ته مجبورولو. په دغه ځای کې زیمبا خپل ځان ټینګ نه شو کړای او ونښیده. کوښښ یې وکړ چې دا لویه ډبره کلکه ونیسي. سکار په ملنډو خندا وکړه او ویې ویل: « په همدې ځای او په همدې حالت یا وضعیت کې ستا پلار هم ووچې ما هغه وواژه !»




کله چې زیمبا دا واورېدل، په دغه وخت کې خدای پاک دې ته نوی قوت ورپه برخه کړ. زیمبا دې لویې ډبرې سر ته ټوپ کړ او د خپل پلار ظالم قاتل باندې یرغل وکړ. په دغه ترڅ کې نالا او نورو زمریانو پر کوږانو یرغلونه وکړل او هغوی یې تېښتې ته مجبور کړل. په دې سخت جنګ کې سکار د دغې لویې ډبرې څخه ښکته ډوغلې یا کندې ته ولوېد. هر څه په خېر تېر شول. قانوني پاچا د خپلې پاچاهي واګی په خپل لاس کې واخست.



کله چې په دغې لویې سیمې کې سوله برقراره شوه، نو زیمبا پاچا غوښتل چې ځان ته یوه ملکه ولټوي. زیمبا پوهېده چې څوک ددې د ملکې کېدو لیاقت لري. دا دې ته وفاداره او قهرمانه نالا ده. بیا د ډېر شانداره مراسمو سره دې دواړو واده وکړ.

څو میاشتې وروسته زیمبا او نالا ته خدای پاک یو ماشوم ورکړ. بیا ټول ژوي (حیوانات) دغې لویې ډبرې ته راټول شول او زوړ رافیکي دغه نوې ځېږېدلی شاهزاده پورته کړ چې ټول یې وکوري.



د الماني König der Löwe کتاب څخه ژباړنه

ډیپلوم انجینیر اسدالله ملکزی